فرهاد ویاړ


۲۳ اگست ۲۰۱۱

# لنډ پیام

**د «افغانستان آزاد- آزاد افغانستان» پورتال او د ښکیلاک ضد هڅانده مبارزه**

د لومړی ځل لپاره مې د ۲۰۰۹ کال د جنوري په لومړی نیټه د ؛افغانستان آزاد – آزادافغانستان؛ پورتال ولید. په هماغه ورځ مې د دي پورتال چلوونکو او مسؤلینو ته دا بریښنالیک واستو:

«سلام دوستان پورتال افغانستان آزاد،
آیا امکان دارد که من با بخش کتابخانه شما در زمینه ترجمه کتاب های پشتو در بخش شعر، ادبیات و کتاب های سیاسی همکاری نمایم؟
در صورتیکه موافق باشید، لطفا مرا اطلاع دهید تا در زمینه همکاری نمایم.
البته ترجمه های من بیشتر بر آثاری که در آن تعهد اجتماعی و سیاسی به چشم می خورد، متمرکز است و در ضمن ترجمه های از آثار مارکسیستی هم روی دست دارم.
با درود
فرهاد»

لا څو شیبې تیرې نه وې چې د پورتال چلوونکو بریښنا لیک راځواب کړ:

«هموطن گرانقدر جناب فرهاد!
متقابلتاً درود ها و سلام های گرم ما را بپذیرید .مایهٔ بس خشنودیست، که صفحات پورتال توجهِ آن جناب را به خود جلب کرده است.

از عرضهٔ همکاریهای خود در عرصهٔ ترجمه یاد آوری فرموده اید و اینکه آیا چنین امکانی برایتان در پورتال "افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان" موجود است؟

بدین وسیله به اطلاع جناب عالی می رسانیم، که پورتال زمینه های همکاری اهل خبرت را وسیعاً در نظر گرفته و یقیناً که همکاری شما نیز مورد استقبال ما قرار خواهد گرفت. طوری که می فرمائید، جناب شما می خواهید همکاریهای خود را در بخش ایدیولوژیک و نیز در بخش های اجتماعی ، سیاسی و ادبی پورتال عرضه بدارید .

اینکه همکاری های شما در عرصهٔ زبان ملی پشتو صورت خواهد گرفت، خاصتاً مورد علاقهٔ ما می باشد، چون همکاران زبان پشتوی پورتال به تناسب زبان ملی دری به مراتب کمتر اند و ما آرزومند روزی می باشیم که بین آثار هردو زبان بزرگ و ملی ما تعادل به میان آید.

پورتال منتظر همکاری های شما مانده و آرزومند است که آثار خود را هرچه زود تر در دسترس ما قرار بدهید.

موفق باشید.

با تقدیم محبت

پورتال AA-AA »

او د همدې برېښنا لیک سره زما همکاري له پورتال سره پیل شوه. ما له همدغې شیبې څخه تر ننه پورې هڅه کړې چې له دې پورتال سره د هنري، ادبي، شعري، فلسفي، داستاني او مارکسیستي آثارو په برخه کې همکاري وکړم، ولې؟

ځکه چې دا پورتال ما د ښکیلاک ضد مبارزه کې یو ځانده پورتال وموند. د دې پورتال د اکثرو لیکوالانو لیکنې، شعرونه ، طنزونه او راپورونه ټول د ښکیلاکګرو او د ګوډاګیانو د جنایتونو په ضد او د خپلواکۍ د مبارزې لپاره لیکل کیږي. په دې پورتال کې هغه ارزښتونه نغښتي دي چې د هیواد په اوسني استعماري شرایطو کې ورته اړتیا لیدل کیږي: مبارزه، میرانه او ولسپالنه.

په تیرو نژدې دریو کالو کې چې ما له دې پورتال سره مرسته پیل کړې، دا پورتال تر اوسه پورې یوه شیبه هم د خپلواکۍ په برخه کې له پرتمینې مبارزې څخه په شا شوی نه دی او د ټولو ښکیلاکګرو، زبیښاکګرو، مرتجعینو، پخواني او اوسني ګوډاګیانو، منحرفینو او ولس دښمنه عناصرو په وړاندې پریکنده او غوڅ دریځ لري.

په داسې حال کې چې دا وخت په افغانستان کې په رسنیو کې هیڅوک په وړیا کومې ورځپاڼې، جریدې، خپرونې او وب پاڼو ته په دوامداره توګه لیکنې نه کوي او که چیرې هم یوه لیکنه په وړیا توګه وکړي هغه هم تفریحي بنسټ لري، خو د افغانستان آزاد – آزاد افغانستان پورتال په تیرو دریو کلونو کې توانیدلی چې د خپلواکۍ پر سیاست څه باندې ۳۰۰ قلمي همکاران په وړیا او داوطلبانه توګه راغونډ کړي او ټول په ګډه د آزادۍ او استقلال لپاره قلم ووهي. دا هغه ویاړ دی چې ډیر کمو رسنیو ته رسیږي.

نو زه له همدې کبله له زړه له کومې د دې پورتال ددریمې کلیزې په ویاړ هغو مبارزو متصدیانو ته تبریکې وایم چې په زیار او زحمت سره توانیدلي دا پورتال د خپلواکۍ د ډګر په یو اتل بدل کړي.

**د پورتال د لا بریا په هیله.**